مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال ۲۰۲۱/۰۵/۱۱

د افغانستان د خلکو شعوري مقاومت

د وحشت و ترهګرۍ په وړاندې د عامه افکارو مقاومت کمزوری مه ګڼئ. بیخي اغېزناک دی. نړۍ یې هېښه کړې ده .

ترهګرو ته د نړیوالو او سیمه ییزو استخباراتي کړیو کلکه اړتیا ده، غواړي د مرګ او ترور د یوه وحشتناکه ماشین په توګه یې په سیمه کې د خپلو اهدافو لپاره وکاروي. خو د افغانستان د خلکو شعوري مقاومت شاتګ ته اړ کړي دي .

تاسو هر یو، چې په ټولیزو او ټولنیزو رسنیو کې غږ پورته کوئ، تاسو هر یو، چې د خپلو مېړنیو او سپېڅلیو ملي امنیتي ځواکونو ملا ورتړئ، چې د ښځو د انساني حقونو اندېښنه راپورته کوئ، چې ښوونځي ته د تلونکیو ماشومانو د حق پوښتنه کوئ، نو د ترهګرو استخباراتو دسایسو ته یو بل اړم وراچوئ .

په نړۍ کې ویښ ضمیرونه هم کم نه دي. انسانیت لا بیخي مړ نه دی. په نړۍ کې له بېوزلو افغانانو سره لا هم خواخوږي شته. موږ ته ښایي، چې خپل غږ وروړسوو .هغوی پر خپلو دولتونو د فشار راوړلو په راز و رمز ښه پوهیږي .

ودریږئ،

غږ پورته کړئ

او

د انسانپالې نړۍ ضمیر راوننګوئ .

ډاډمن اوسئ د ترهګرۍ قیمت مو د هغوی بادارانو ته ډېر لوړ کړی دی، که لږ نور په یووالي، متشکل خوځښت، لوړ غږ او پیاوړي منطق سره منسجم شئ، د ترهګرو د ملاتړو ملا ماتیږي .
زه دا هرڅه له ورایه وینم .

همدا نن مې دغه څه د ځینو، ځینو د مکرجنو سلامیو او ابلیسي څېرو شاته ولوستل .

د دوی په زړه نه ځاپیده، چې افغانان دې هم د ملي ویښتیا دغه برید ته ورسېدلای شي .

د ویښتیا، روښانتیا او بدلون لارویو، مبارک مو شه!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ